مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۲/۲۲

د یوه بیت شاعري

لومړۍ برخه

چې خفته عقل د علم په کرنګارو شو ، بیدار
هر قدم کې شـــو ،آسانه ، راته فهم د اسرار
«««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
آرمـــانـــونه د دردمنـــو به لنبه شي
که جاهلانو لاس ته پریوت حکومت
«««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
بیدردانو مړ احساس هومره زهیر کړم
چې پناه وړمه له خلکو ، لیونتوب ته
«««««««««««««««««««««««««««««««««««
ځان به ورک کړې ، په غوغا کې په یو دم
که عارف په نظـــر و ګـــوري ، عـالم
«««««««««««««««««««««««««««««««««
ما ته نن په حقارت ګوري ، دنیا
ځکه نفس او جهالت کړمه رسوا
«««««««««««««««««««««««««««
په کلنو زمـــا نه څـــاری ، د عدم لار
تر څو راشي ، ودي محفل ته یو هوښیار
«««««««««««««««««««««««««««««««««««
غمګین غمجن په یو عالم غمو کې ډوب شم
ستا باغ وبن کې چې ، خـــزان وینـــم وطنه
«««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
معـــرفت کې زړه روښـــانه د هر چـــا وي
که سر تاج د درست جهان ، او که ګدا وي
«««««««««««««««««««««««««««««««««««««
معرفت یو بل مشعل دی ، چې بلیږي
په دمـــاغ د حـــکمـــا او فلســـفیانو
«««««««««««««««««««««««««««««««««

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د عارف په هر قدم کي ، په خپل حال باندی وي پام
ځکـــه ويني په رښا د معــرفت کي ، خـــپل انـجام
»»»